د نبوي ﷺ اخلاقو دلوست پوښتنې :

۱ - کله چې پر رسول اکرم ﷺ لومړي ځل لپاره وحې نازله شوه ، نو حضرت بي بي خديجې رضي الله عنها ورته څه وويل ؟

۲ - د قربشو شخړه د حجرالاسود د اېښودو په هکله څنګه له مينځه لاړه ؟

۳ - هغه وخت چې د حضرت رسول اکرم ﷺ مبارک غاښ شهيد شو څه دعا يې وکړه ؟

پخې خبرې

* د دوستۍ او الفت لپاره تل کوښښ کوئ ، د دښمنۍ او میرڅې له کارونو څخه ځانونه وساتئ .

عدل او انصاف د هرچا لپاره بهتر دی خو د امیرانو لپاره زیات غوره دی . (حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه)

* څوک چې بدي نه پېژني په بدۍ کښې نښلي .

ظالم بخښل پر مظلوم ظلم دی .

که په ربښتیا وژل کېږئ هم له ربښتیا مه اوړئ .

(حضرت عمر رضی الله عنه)

* د هرڅیز لپاره افت شته ، د ملت افت غیبت کوونکي او چغلکران دي .

خپله غلطي منل د نه سهو کېدو معنا لري .

حضرت عثمان رضی الله عنه

* غمراو نا امېدي د بېکاره خلکو صفتونه دي .

دکاوندي بدغوښتل اود نېکانو سره بدي کول انتهايي بدبختي ده .

غريب هغه دی چې دوستان يې نه وي .

تر ټولو ستر خيانت د ملت تېر ايستنه اوغولونه ده .

(حضرت علي کرم الله وجهه)

* خوک چې پرځان باور نه لري ، هغه هرڅه دی مګر انسان نه دی .

(شاه ولي الله رح)

* نا امېدي تر ټولو ستر د ښمن دی .

(شيخ سعدي رح)

* محترم ښوونکی دې د هرې جملې په مطلب زده کوونکي وپوهوي .

* کرانو زده کوونکو ! هر هر د ټولګي مخې ته راشئ هره هره جمله خپلو ټولګي والو ته په معنا او مطلب سره ووایئ

* زده کوونکي دې پخې خبرې په یادو زده کړي .

عمر بن عبدالعزیز رحمه الله
د حسن بصري نصیحت

۱ـ عادل امیر د یتیمانو وصي او د مسکینانو ساتونکی وي، کوچنیان روزي او مشران تمویلوي.

۲ـ ای امیرالمؤمنینه! خپل د ننه ورځې قدرت ته مه کوره د سبا ورځې قدرت په نظر کښې وساته، هغه ورځ چې له مړکه سره مخامخ شې، او هغه ورځ چې د خدای پرښتو او پیغمبرانو په حضور کښې ولاړ یې.

۳ـ ای امیرالمؤمنینه! عادل امیر د هغه مهربانه شپون په څیر دی چې خپل اوښان سمسورو ورشوکانو ته بیایي، له هلاکته یې ژغوري، له څیرووونکیو ځناورو، تود وخې او سړو (یخنۍ) نه یې ساتي.

٤ـ ای امیرالمؤمنینه! هغه وخت په یاد لره چې ټول انسانان له قبرونو راپاڅي او ټول پټ رازونه ښکاره شي، لوی او وړې ګناوې په عمل ناموکښې لیکلې شوې وي .

٥ـ ای امیرالمؤمنینه! امیر په بدن کښې د زړه په مثال وي که زړه روغ وي ټول بدن روغ وي اوکه زړه فاسد شي ټول بدن فاسدیږي .

٦ـ عادل امیر د هغه زړه سواندي پلار په شان وي چې په کوچنیوالي کښې د خپلو بچو د سوکالۍ او په ځوانۍ کښې د هغوی د تعلیم لپاره زیار باسي او ترمړک وروسته د خپل زیار ثمره هغوی ته پریږدي .

ښاغلی ښوونکی دې دیوعادل پاچا حقوق د اسلام له نظره زده کوونکو ته بیان کړي .

مشراوکشر

پاک خدای انسانان دوه برخې کړي دي : مشران اوکشران که د ټولنې هر وګړی د دې وپښ له مخې خپله ورسپارلې وظیفه وپېژني اوترسره یې کړي نو ډېرې ستونزې به اواري او ډېر زیات بدوالي به په خوشحالۍ بدل شي .

مشرتوب درې ډوله دی : دعلم ، رتبې ، عمر په لحاظ ، نوکشروالی هم همدغسې پر درېو برخو وېشل کېږي او ټولنه کښې لکه څرنګه چې مشر پرکشر حق لري ، دارنګه کشر هم پرمشر حق لري . دمشر حق پرکشر باندې دا دی چې باید دخپل مشر نېکو خبرو ته غوږ کښېږدي ، ویې منې ، او په درنه سترګه ورته وګوري . اودکشر حق پرمشر دا دی چې مشر باید له کشر سره زیات سوی ، خواخوږي او مهرباني څرګنده کړي .

نو مشران باید دکشرانو د ښېګڼې لپاره زیار وکالي او ویې روزي . کشران باید د مشرانو ښې خبرې ومني او ـ درناوی یې وکړي .

پوښتنې

۱ـ خدای پاک انسانان څوبرخې کړي دي ؟

۲ـ مشرتوب په څو ډوله دی ؟

کرانوزده کوونکو! د مشر او کشر ترعنوان لاندې یوه مقاله ولیکئ .

د جهاد په باره کښې د څو مبارکو حدیثونو ترجمه

هغه څوک چې جهاد نه کوي او د مجاهد لپاره د جنګ سامان هم نه برابروي اود مجاهد د کورنۍ سره د نیک نظرله مخې مرسته نه کوي ، خدای تعالیٰ به ورته د قیامت د ورځې نه مخکښې لویه پیښه وکړي . (ابوداؤد)

څوک چې د غازي لپاره د جنګ سامان برابروي هغه غازي دی اوڅوک چې د غازي په غیاب کښې د هغه د کورنۍ سرپرستي په غاړه اخلي هم غازي شمیرل کیږي .

(بخاري ، مسلم ، ابوداؤد ، ترمذي ، نسائي)

که څوک د خدای په لاره کښې د اوښې د لوښلو په اندازه جهاد وکړي ، جنت ورته واجب دی ، په دې شرط چې دغه جهاد د کلمې د لوړوالي لپاره وي . (ترمذي)

د خدای په لاره کښې د سهار او مابنام تېرول بهتر دي له دنیا او هغه څه څخه چې په دنیا کښې دي . (بخاري ، مسلم ، ترمذي)

حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه د حضرت رسول کریم صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې : کوم یو عمل د ټولو څخه بهتر دی ؟

حضرت پیغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمایل : په خدای عقیده لرل ، او د خدای په لاره کښې جهاد کول .

(بخاري ، مسلم)

کرانو زده کوونکو دپورته مبارکو احادیثو معنا یاد وزده او هم یې نورو مسلمانانو وړاندې ته تبلیغ کړئ .

حمد

حمد ثنا تا لره ښايي ربنا

هم لايق ته د ثنايي ربنا

بې د ذاته ستا ،چې هرڅه دي مخلوق دی

ته خالق د کل اشيايې ربنا

د بنده حسن ويل ستا د ثنا دي

که نه ته ترې بې پروايې ربنا

مونږ عاجز او نا توانه بندګان يو

ته قادر او توانا يې ربنا

هم اول بې ابتدايې لويه خدايه

هم اخر بې انتهايې ربنا

نصیحت

ځان ته ښه وایې ښه نکړې هغه څه وایې داڅه کړې
شپه او ورځ د نس لپاره حسابونه د وینښته کړې
حق بینی ته لکه سویه غټې سترګې ځان وپه کړې
هغه غوږ سترګې دې نشته چې پرې اوړې یا لېده کړې
چې پرې ناست یې هغه څانګه پرې کوې خوې درانده کړې
کړې خار په هغه لار کښې چې ته هر ساعت پرې تله کړې
که درپښې د دنیا زیان شي پسې ژاړې لېمه سره کړې
د خوږې نمړې لپاره قبول سل تروه ترخه کړې
دا یوځان د نس په زېرمه کله سپی کله لېوه کړې
هغه دم په تا رښا شي چې د بل په کور تیاره کړې
داهمه د نس په زېرمه تن پروره، اور اوبه کړې

په خپل نفس که قدم کښېږدې د بل ځای به په لېمه کړې

قناعت که په لاس واخلې نفس شیطان به سره غلې کړې

دم قدم به د نېکانو پېروي په خوله په زړه کړې

خود په خود لوېږې کوهي ته

له حمیده څه مانه کړې

ښاغلی ښوونکی دې د نظم هر بیت زده کوونکو ته په روانه ژبه معنا کړي او هم دا نظم په نثر بدل کړي.

د شهادت مینه

په احد جنګ کښې یوې بوډې د رسول اکرم ﷺ د غابن د شهادت خبر واوریدو په ډیره زیاته پریشانه شوه ، په منډه منډه د جګړې میدان ته روانه شوه ، یوه جنازه یې مخې ته راغله پوښتنه یې وکړه چې : دا جنازه د چا ده ؟

خلکو ورته ووې ل : دا جنازه ستا د زوی ده .

بوډې ووې ل د خدای له رسول نه دې ځار وي ، د خدای د بر د پر شکرونه دي چې زوی مې د الله په لاره کښې شهید شو اود شهادت لوړه مرتبه یې وګټله .

چې نوره هم وراندې لاړه یوه بله جنازه یې مخې ته راغله ، دا جنازه یې د ورور وه . دایمان په مینه ستي بوډې چې د خپل ورور د شهادت خبر واوریدو ، بیایې د الله شکر اداکړ او ووې ل یې

الحمدلله چې ورورمې هم د شهادت لوړه مرتبه وګټله او ابدي ژوند يې په برخه شو .

بودی چې له رسول کريم ﷺ سره مخامخ شوه نو ډېره خوشحاله شوه او رسول الله ﷺ ته يې وويل :

چې ته په خپريې نورټول مصيبتونه هېڅ دي ، زما خاوند ، پلار ، وروڼه او ټول زامن دې له تانه ځاروي .

رسول اکرم ﷺ زېرې ښځې ته د زوی او ورور د شهادت مبارکي ووېله ، دعايې ورته وکړه او دزړه ډاډ يې ورکړ .

پورتنۍ کيسه د افغانستان مجاهد ولس ته د صبر او استقامت درس ورکوي .

پوښتنې

۱- زړې ښځې د خپل زوی او ورور د شهادت په خبر ډډو کومعمل تر سره کړ ؟

۲- زړې ښځې د حضرت رسول کریم ﷺ د مخامخ کېدو سره سم څه اقرار وکړ ؟

۳- بوډې ولې د خپل زوی او ورور په شهیدېدو دومره خواشینې نه وه لکه څومره چې د رسول اکرم ﷺ د غایبېدو د شهادت د خبر په اوریدو پریشانه شوه ؟

دوخت ارزښت

هرهغه څوک چې خپل قيمتي وخت د علم په تحصيل کښې تېر کړي ، عالم او فاضل به شي چې دغسې کسان له ټولې خوا د ژوندانه له مشکلاتو سره په اسانۍ مقابله کولای شي ، اوله بلې خوا د خپلې ټولنې له پاره ګټور کېدای شي .

هغه خلک چې د وخت په ارزښت نه پوهېږي ، وخت غنيمت نه ګڼي ، خپل وخت په زده کړه نه لګوي ، دغسې وګړي د علم له ثمر نه بې برخې پاتې کېږي اوښتي کولای چې خپلې ورځنۍ چارې په سمه توګه سرته ورسوي .

همدارنګه که موږ خپل تېر عمر ته ځير شو ، پوه به شو چې ژوند اوفرصت همغه دی چې تر اوسه مو اخلو ، اوکتل له هغو شېبو نه اخېستلای شو چې لا نه وي راغلې خو ورته چمتو

اوسو ، پروګرام اونفشه موورته په لاس کښې وي .

د دې له پاره چې دنیوي او اخروي ګټې تر لاسه کړو، په دنیا او اخرت کښې دښه ژوند خاوندان شو، لازم دي چې وخت ته په درنه ستر ګه وګورو ، خوشې اوبې ځایه يې تېر نه کړو ، تل هڅه وکړو چې خپل اړه بښتناك وخت د خدای په عبادت او د هغه د مخلوق په خدمت او د علم په زده کړه کښې تېر کړو . لکه چې د پښتو ژبې ښوشاعر دې ټکي ته داسې اشاره کړې :

ښونفس مه شه غافل له نفس کښې

مبادا چې دې دغه له نفس وي

ګرانه زده کوونکيو له دې نه معلومه شوه چې خپل ورځنی ژوند اوراسپارلې چارې باید د علم په زیاتوالي کښې ترسره کړو چې پرستونزو او مشکلاتو بری وګټو . نو ځکه چې له همدې ننه د وخت قدر وکړو ، وخت وپېژنو او پرهغه څه يې ولګوو چې ټولنه ورته اړتیا لري.

کرانو زده کوونکو!

۱- دپورته لوست نه موخه نتیجه واخیسته ؟

۲- د پښتو دپورتني بیت معنا او مطلب په خپلو کتابچو کښې ولیکئ.

۳- خپل وخت باید څنګه تیر کړو ؟

٤- د وخت دارزښت په باره کښې یوه « اته » کرښیزه - مقاله پخپلو الفاظو ولیکئ.

د جهاد ترانه

مونږ مسلمانان یو په الله موځان سپارلی دی
د اعزم موکړېدی لوی واړه جهاد ته ځو

مونږه د اسلام د دین د شمېې پټنکان یو
مونږ د خدای په لارکښې تېرله سره اوله ځان یو
پاکه عقیده لرو پېرو د پاك قرآن یو
مونږه د خالد د لوړ همت سنګر نیولی دی
د اعزم موکړېدی لوی واړه جهاد ته ځو

هرېو مسلمان د خدای کلام باندې ایمان لري
مړګ د شهادت هرمسلمان په زړه ارمان لري
زړه ونو کښې دا پاکه عقیده هرمسلمان لري
مونږ ته پېغمبر د اسلام دا سبق ښودلی دی،

داعزم موکړی دی، لوی واړه جهاد ته ځو

مونږ د ملحدینو له قدرته نه ویرېږو
څوچې موږ وندون وي له ملحد سره جنګېږو
مونږ سره کومک د پاك الله دی ښه پوهېږو
وایي «ناصر» داچې ما په دې سترګو لیدلی دی
داعزم موکړی دی، لوی واړه جهاد ته ځو

ښاغلی ښوونکی دې د ترانې د وېلو له پاره په ټولګي کښې ېوخاص کروپ شاګردان وټاکي .

دبندهٔ له نیکو بدو بې پروا یې

ته صمد او کبریا یې ربنا

په هرآن، په هرلسان چې هرڅه کېږي

په هرپټ ښکارهٔ آګاه یې ربنا

اندازهٔ دخپروشر ده ستا له خوانه

خو په نیکو ته رضایې ربنا

ورکوونکی دعزت ذلت هم ته یې

هم قاضي دکل قضایې ربنا

د ایمان سره مونږ بوزې د دنیا نه

قبلوونکی د دعایې ربنا

ژوبل ستا رحمت ته ځکه امید واریم

زهٔ بنده ته رب ځمایې ربنا

البیرونی

په هغه زمانه کښې چې نه کاډي وو نه جهازونه وو نه موټرې نه لارۍ وې ، د لرې لرې ملکونو سفرونه د لوی همت کار ؤ، کرانې لارې دغلو، غلچکو وېره ببله ، دموسم نامرامي پرې له پاسه ، په قافله کښې پیاده یاپه آس، یا اوښ په میاشتو میاشتو مزلې ، ځکه دغوکړاوونو او تکلیفونو ته هرچاتن نشو ورکولی ولې بیاهم په هره زمانه کښې داسې همّتناک خلک تېر شوي دي چې د ملکونو ملکونو سیلونه به یې کول اوخپل علم به یې زیاتوه .

په دې سبق کښې به تاسې د یو مئورخ عالم او سیلاني حال ولولئ :

د ده نوم ابوریحان محمّد ؤ اوپه البیروني مشهور ؤ .

البیروني په ۹۷۳-ع کال په خوارزم کښې وزېږېد، په دغه وخت

کښې د منځنۍ اسیا هر مقام د اسلامي علمونو او فنونو مرکز ؤ .
داعلمونه په عربي ژبه لوستل کېدل ، په دې سیمه کښې تر البیروني
د مخه هم لوی لوی عالمان او فاضلان تېر شوي وو، خو په څلورمه
هجري پېړۍ کښې د خوارزم سیمې د (البیروني) او ابوسینا غوندې
عالمان وزېږول .

البیروني ښه پر ذهین متعلم او طالب ؤ ، په خپل ژوند کښې
يې کله مطالعه نه وه قضا کړې او ټول عمر د علم په حاصلولو کښې
لګیا ؤ ، البیروني د عربي ژبې ښو پرلوی عالم ؤ، د هر علمونه يې
زده وو ، په تېره په نجوم ، ریاضي ، تاریخ ، جغرافیه ، کیمیا او
معدنیاتو کښې يې لوی لاس لاره .

په کومو وړځو کښې چې البیروني په هندوستان کښې استوګنه
کوله او د علمونو په حاصلولو بوخت ؤ د غه وخت د محمود غزنوي
د حملو له کبله د هندوانو په زړونو کښې له مسلمانانو سره د کینه

وه اوداخبره د البيروني له پاره ډېره ګرانه وه ،چې هغه په داسې حالاتو کښې له هندوانو سره خپل علمي روابط وساتي ،خوډامشکل البيروني په خپلو بنو خويونو او د خپل لوی علم په برکت اسانه کړ. په داسې خطرناکو ورځو کښې پوره (۱۵) کاله هغه په هندوستان کښې د هندوانو په مينځ کښې پاتې شو اود هند علمونه يې حاصل کړه بياغزني ته لاړ اود محمود غزنوي په دربار يانو کښې شامل شو.

محمود غزنوي په لږو ورځو کښې وفات شواود هغه زوی مسعود پر تخت کښېناست . مسعود د البيروني ډېر قدر کاوه البيروني د«۶۰» کالو په عمر کښې وفات شوچې قبر يې په غزنې کښې دی .

سوالونه اومشق :

۱- د البېروني نوم څه وُه اوکله پېدا شوی وُ ؟

۲- په هند کښې دی په څه غرض دېره وُ ؟

۳- البېروني به خپل ژوند په کوم شغل کښې تېرولو ؟

٤- دالاندې بنې ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ :

نارامي ، ذهين ، سپلاني ، تکليفونه ، معدنيات ، درباريان ، قافله .

مجاهد ته خطاب

مجاهده ! د حق دلاري قهرمانه ، د اسلام د ځلاندې ډيوې پتنګه ، د بدر او احزاب د يادونو تازه کوونکيه ، د اسلامي پاکې عقيدې او هېواد څخه د دفاع په لارکښې د خپلوکرمو وينوبښندونکيه

مجاهده ! ايمان اوصبر ستا وسله ده ، داسې وسلې چې ستا د بري اوستا د دښمن د ماتې لپاره کافي ده ، ايمان اوصبرستادلارې ډيوه ده هغه ډيوه چې د دې په پلوشوکښې د بري اوکاميابۍ سرحد ته رسېدلای شي .

مجاهده ! ثابت قدمي د دښمن د ګوزارونو په مقابل کښې ستا لپاره فولادي زغره ده ، ستا د جنګ جامه ده ، ستا د ډاډ او اطمينان اسره ده .که ستا دښمن په ډول ډول جنګي وسلو سمبال وي خو ستا کلکه عقيده اوپاک ايمان د هرزور مقابله کولای شي

نوته د خپلې عقیدې اوایمان په تکیه ثابت قدم اوسه ، پام کوه چې د باطل هیڅ یو توپان اوسیلې ستا قدمونه ونه لړزوي ، د دې توپانونو او زلزلو په مقابل کښې لکه غرو درېږه اود خپل لوی خدای ﷻ څخه وغواړه چې : «وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا» .

مجاهده ! ته د الهي نصرت حقدار يې خدای ﷻ ستا مرستندوی دی ځکه چې ته د حق لپاره د کافرانو سره جنګېږې ، د حق د سنګر سپاهي يې ، تا د حق لپاره هر ډول تکليفونه په ځان منلي .

پوهېږم چې د جهاد په سنګر کښې به د ډېرو تکليفونو سره مخامخ شې ، لوبې اوتندې به درباندې راشي ، وسايل به دې خلاص شي چې داوخت به ستا په نظر کښې د بل هر وخت څخه د زياتې پريشانۍ وخت وي ، خو پوه شه چې په حقيقت کښې داوخت ستاد کاميابۍ وخت دی ، ځکه چې لوی خدای ﷻ په دې سخت حالت کښې تا بې اسري او بوازې نه پرېږدي ، ته د خدای ﷻ مرستې

او نصرت ته اړي، له هغه نه وغواړه چې :

(وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ)

محترم ښوونکی صاحب دې نړده کوونکوته د پوحقیقي مجاهد د نېکو اوصافو په هکله لازم توضیحات ورکړي .

شاګردان دې په خوګروپونو ووېشل شي اوهرپوګروپ دې دخپلې منطقې د مجاهدینو په برخه کښې معلومات ورکړي .

د زوی پالنه

خدای دې نه کا هسې زوی د چا په در لوی

د اسلام په لار چې نه وي برابر لوی

په بینا ستر ګو وي پرون د حق لپاره نه شي

په وحشت او بربریت چې شي بشر لوی

د قرآن په رنا ښه لار مونده شي ۔

خپل بچي کړئ په قرآن باندې خبر لوی

د مات لاس په څېر وغاړې ته پرېږدئ

بې تعلیم که چېرې شي د چا پسر لوی

له اوبو یې چې حاصله کټه نه شي

ته به یې څه کړې که هر څو شي سمندر لوی

حاصل خپله خاوره ښه ترقدم لاندې

نه بې فیضه بې ثمره هسې غر لوی

د کمال میوه چې نه لري په کار څه

په مثال د شنې وني بې ثمر لوی

پس له مرګه به هم پلار ته صدقه شي

هغه زوی چې شي د علم په اثر لوی

کړې زمونږ واړه بچیان خاونده خدایه

په قانون د پاک قرآن او پیغمبر(ﷺ) لوی

ملنګیاړه هغه زده کړه په دنیا کښې

چې بری پرې حاصلیږي په محشر لوی

ګرانو زده کوونکو! دا نظم په یادو زده کړئ. اوهم لاندې بیت معنا او مطلب یې پخپلو کتابچو کښې ولیکئ.

د مات لاس په څیر وغاړې ته پرېهوځي

بې تعلیمه که چېرې شي د چا پسر لوی

بوعلي سينا

بوعلي سينا چې د ابن سينا په نوم مشهور دی، اصلي نوم يې بوعلي الحسن ؤ، دی په «۹۸۰»ه کال په بخارا کښې پيدا شوی ؤ. پلار يې عبدالله بن سينا نومېده چې د بخارا د امير نوح بن منصور سامانې په غلامانو کښې ؤ. وايي چې د ابن سينا په وړوکوالي کښې قرآن شريف او په هر حديثونه او د عربي ژبې شعرونه يادوو.

د شپاړسو کالو په عمر کښې يې په طب کښې لاس پيدا کړ، د فلسفې مطالعه يې په ښه شان سره وکړه او په دې علم کښې يې ياد عالم شو. ده ته چې به هرکله څه مسئله پېښه شوه نو ښځ به جومات ته لاړو، اودس به يې وکړو، دوه رکعته نفل به يې وکړه او بيا به يې د هغه مشکل د حل له پاره له خدای ﷻ نه دُعا غوښتله ترهغې به يې لاس پورته نيولی ؤ چې د هغه مشکل حل به ورته معلوم

کرانو زده کوونکو ! دلاندې بېتونو مفهوم او معنا په خپلو کتابچو کښې ولیکئ :

مونږ عاجز او تا توانه بندګان یو — ته قادر او توانا یې ربنا
اندازه دخپرو شرده ستاله خوانه — خوپه نېکو ته رضایې ربنا

بناغلی ښوونکی دې دهر بېت په معنا او مطلب زده کوونکي وپوهوي .

شو، د کتابونو مطالعه یې په پوره زیاته کوله.

وایي چې د ارسطو یو کتاب یې دومره ځل ولوسته چې اخر ورته یاد شو. خو بیا هم په اکثرو مضامینو نه پوهیده ترڅو پر لټون وروسته یې په هو کنا بپلورنځي کښې د ارسطو د کتاب شرح چې فارابي لیکلې وه په لاس ورغله د هغه کتاب د مطالعې وروسته یې دا مشکل حل شو د ده عادت وُچې څه به یې لوسته، ترڅوچې به پرې پوه شوی نه وُ نه به ارامیده.

بوعلی سینا اتلس کلن وُچې د بخارا حاکم د خپل علاج له پاره وغوښت، په دغو ورځُو کښې د ابن سینا لاس تنګ وُ دا اراده یې کوله چې د روزی د حاصلولو د پاره چېرته ووځي. دا بلنه یې نعمت وکنله د امیر نوح بن منصور د علاج له پاره ورغی، ترڅو ورځُو د علاج وروسته امیر ته پاک خدای صحت ورکړ. مګر ده د امیر نه د پیسو اخیستو پرځای د هغه د کتابتون د کتابونو د مطالعې اجازه

واخیسته . امیر دی د همدان حاکم مقرر کړ . ده د پوهیشت کالو
په عمر کښې پر سایینسي علومو باندې پوهستند کتاب ولیکلو، په
دغو وړځوکښې د سامانیانو حکومت ختم شو او دی د روزې په-
لټون کښې خپواته لاړ هلته حاکم ورته څه لږ شان معاش مقرر کړ
ولې دی پس له څه مودې ځنې خراسان ته لاړ هلته څه اړه دوړ وُ، نو
له هغه ځایه جرجان ته لاړ دا ځای د کسپین سره نژدې دی هلته ورته
پوهلګري د مدرسې جوړلو سلا ورکړه ، خو ده نږه ونه لګیده ببرته -
همدان ته لاړ، د همدان امیر د روغتیا وزیر مقرر کړ، دلته یې پرطب
یوکتاب لیکل شروع کړل، کتاب لاختم نه وُ چې د همدان امیر
وفات شو، ورسره دده وزارت له مینځه لاړ، له هغه ځایه اصفهان ته
لاړ دولس کاله یې د اصفهان له وزیر سره تېرکړل، هغه به یې
ډیر نږدې عزت کاوه، په اصفهان کښې ابن سینا د خپل مشهور
کتاب (القانون) پاتې برخه بشپړه کړه .

دغه کتاب د اروپا په پوهنتونونو کښې تراتوسوو کالو پورې لوستل کېدۀ، پردې سربېره ابن سینا تقریباً سل کتابونه لیکلي دي. د القانون ترجمه په ډېرو ژبو شوې ده، داکتاب په طب کښې نن هم ډېر اوچت مقام لري.

په اصفهان کښې پر ابن سینا ډوه ورځ د قولنج د درد حمله راغله او اخراً لوی طبیب له دې درد نه د اووه پنځوس کلونو په عمر وفات شو.

سوال لونه او مشق

۱- دابن سینا اصلي نوم څه ؤ ؟

۲- ده څومره عمر کښې قرآن شریف حفظ کړی ؤ ؟

۳- دابن سینا د مشهور کتاب نوم څه ؤ ؟

٤- دابن منصور د علاج قضیه په لنډو الفاظو په خپلو کتابچو- کښې ولیکئ ؟

اسلام او کار

کار او کسب ، کوښښ او زیار د اسلام په مقدس دین کښې د هر ارزښت لري ، د حلالې او پاکې روزۍ لپاره کار کول عین عبادت دی .

حضرت رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي :

« الکاسب حبیب الله » یعنې کارکړ او کسبګر د خدائ ؒ دوست - دی ، نو هغه کسان چې د حلالې نفقې د لاس ته راوړو لپاره کار او کسب کوي ، زحمت کاږي ، یا یې په کار لاسونه تنها کې کښې د اسلام د سپېڅلي دین له نظره د قدر وړ دي چې زمونږ پېغمبر ؐ دغه تنها کې لاسونه د چومولو وړ بولي ، ځکه چې له هوې خوا انسان د کار په وسیله خپلې اړتیاوې پوره کوي او له بلې خوا کولای شي چې د خپلو - ببوزلوورونو سره مرسته وکړي .

ېوه ورځ رسول اکرمؐ له خپلو یارانو سره ناست وٴ، یوځوان
یې ولیدچې په ډېره مینه یې کار کاوه، یارانو یې وویل: کاشکې دومره
زیار اوزحمت یې ددین په لاره کښې ایستلای وای. پیغمبرؐ وفرمایل:
«آیا پوهیږئ چې هغه په خپل کار او کسب کښې لګیا دی چې دځان
مور، پلار اوخپلې کورنۍ لپاره حلاله روزي برابره کړي داهم ېوه
دینې فریضه ده».

نوځوک چې دکارکولو توان او وس لري خوبیا هم بیکاره -
ګرځي، تل به یې د سوال لاسونه د نورو په لور اوږده اوپه -
ژوندانه کښې به د ډېرو ستونزو او سختیو سره مخامخ وي.

په اسلام کښې له شرعي عذر نه پرته سوال کول لویه ګناه ده.
ګرانوزده کوونکو! د دې لپاره چې د ژوندانه له ستونزو اوکړاوونو
څخه خلاص، د هوسا اوښکلي ژوند خاوندان شئ په کار ده چې
خپل کارونه د اسلام د سپېڅلي دین له قوانینو سره سم په خپل-

وخت تر سره کړئ .

د پښتو متل دی چې: تر بېکاری بېکار ښه دی .

بې زحمته راحت هیڅ نه پیدا کیږي

فایده یوه هغه چا چې کار یې وکړ

۱- ګرانو زده کوونکو!

دکار او زیار په باره کښې یو څو کرښې مقاله ولیکئ .

۲- ښوونکی دې خپل شاګردان د پورتني متل په معنا اومفهوم وپوهوي .

۳- ښوونکی دې خپلو شاګردانو ته د پورتني بیت معنا اومطلب بیان کړي .

د حضرت امام غزالي رحمة الله عليه ويناوې

۱- پر فقير د صدقې احسان مه کوه ، بلکې ته يې د صدقې د منلو احسان ومنه .

۲- خپل ځان لوی کړل او نوروته سپک کتل کبر دی .

۳- د بچو اصلاح په مدرسه کښې ده او د ښځو په کورکښې .

٤- هغه دعوت د بربد دی چې شتمن وبلل شي اوبې وزلی تړې بې برخې شي .

٥- د مال شکر زکوة او د بدن زکوة لمونځ ، روژه اوحج دی .

٦- په ژبه اقرار د ايمان پوست ، اوپه زړه تصديق د ايمان مغز دی .

۷- سهاروختي پاځېدل په کار دي اوتر ټولو لومړی شی چې په ژبه ياخوله راځي هغه بايد دالله ذکر وي .

۸ ـ که بېوزلی مېلمه دې راشي پور واخله خود هغه ـ مدار وکړه .

۱ـ ښاغلی ښوونکی دې پورته ویناوې زده کوونکو ته تشریح کړي اوپه مطلب دې یې وپوهوي .

۲ـ شاګردان دې په اسلام کښې د مېلمه پالنې ترعنوان لاندې یوه مقاله ولیکي .

ښه خويونه

لومړی شی چې انسان پرې ښايسته کيږي اسلامي ښه خويونه او اخلاق دي . نېک عمل او ښه خوي د انسان د کمال معراج بلل کيږي .

د ژوندون خوشحالي په ښو اخلاقو پورې اړه لري، ښوائې مال، دولت ،علم د سړي د سعادت او خوښۍ پوره سبب نشي کېدای ترڅو پورې د ښو خويونو لوی نعمت ورسره نه وي .

د الله ﷻ رسول حضرت محمد ﷺ چې دنيا ته راليږل شوی دی، همدې لپاره چې د ښو خويونو او اخلاقي مکارمو تبليغ وکړي اوپه دنياکښې ښه خويونه تکميل او انسانان د سعادت په لور راوبولي .

حديث مبارک دی : « بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ » .

یعني د نیاته نږ محمّد د دې لپاره رالېږلی شوی یم چې بنه خویونه تکمیل کړم او ټولې دنیا ته د سعادت اصلي لاره وښیم .

هغه انسان الله ج اوخلکوته قریب او مقبول وي چې د بنو خویونو او نېکو اعمالو خاوند وي . د بدو خویونو او اخلاقو خاوند هېڅکله د خدای ج اوخلکو محبوبیت نشي حاصلولی. په پښتو ژبه کښې یوه لنډۍ ، ویل کېږي چې :

سړے په رنګ نه سړی کېږي

سړی هغه دی چې یې خوی د سړو وینه

که چېرې د دې لنډۍ مفهوم ته په ژوره توګه ځیر شئ نو وبه وایاست چې انسان یوازې د ظاهري بڼې یعني غوښې او هډوکو څخه عبارت نه دی بلکې په انسان کښې نور پټ فضایل پراته دي چې په نورو حیواناتو کښې نشته ، نو انسان په هغو فضایلو سره د حیواناتو څخه بېلېږي او انساني مقام حاصلوي.

نعت

که صورت د محمد نه وای پیدا
پیدا کړي به خدای نه وه دا دنیا

نبوت پر محمد باندې تمام شو
نشته پس له محمدﷺ انبیا

په صورت که اخرین دی پیدا شوی
په معنا کښې اولین دی تر هرچا

که نبي دی که ولي دی که عاصي دی
محمد دی د همه وارو پیشوا

چې پې دین د محمد دی قبول کړی
جنتي دی که فاسق وي که پارسا

محمد د کمراهانو رهنما دی
محمد دی د رهنډو دلاس عصا

هغه فضایل ښه اخلاق ، علم ، فکر اوداسې نورځیزونه دي .

د ملتونو، اقوامو او افرادو حیات اود نظام پاېښت د هغه د اعمالو او د اخلاقو په توازن پورې اړه لري ، هروخت چې د اخلاقو توازن خراب شي ، یا په بل عبارت اخلاق فاسد شي او د صلاحیت څخه ووزي انساني کرامت خراب او په ټولنډکې د پریشانۍ اومایوسۍ سره مخامخ شي، نو هغه مهم څیز چې د انسان انساني کرامت ساتي ښه خویونه اونیک اخلاق دي .

رحمان بابا وایي :

که درنګ خوبي يې ستايې بودي نشته

په جهان کښې که باقي دي خو اخلاق دي

ګرانو زده کوونکو! د نیکو اخلاقو په باره کې یو څو کرښې مقاله ولیکئ .

حکایت

په بغداد کښې یو رسېدلی فقیر له ګومې لورې راپیدا شو حجاج بن یوسف یو ظالم او سخت زړی واکمن وۀ، خلک ترې ډېر تنګ وو، چا له درویش نه خبر کړ، درویش یې ویاله ویل څه دعا راته وکړه.

درویش وویل: خدایه ته یې ځانته درویوله.

حجاج په غوسه شو، ویل دادې څه وویل؟.

درویش وویل: دا دعا هم تالپاره خپرده هم د مسلمانانو له پاره، که ته ومړې - ته به له ظلم او ګناهونو نه بېغمه شې او - مسلمانان به ستا له ظلمه.

رباعی

چې دې له لاسه ازاروي زړونه
مرګ دې بهتر دی له دې ژوندونه
څوبه دې بلې لمبې د ظلم وي
اخر به وسوزي دا اورستاخونه

اسلامي عدالت

د حضرت رسول اکرمؐ په زمانه کښې د بني مخزوم د قبيلې يوې ښځې غلا وکړه ، هغه يې د حضرت پيغمبرؐ حضور ته وروستله چې جزا ورکړي . پر قريشو باندې داخبره سخته لګيده ، په خپلوکښې سره کښيناستل او پريکړه يې وکړه چې څوک مخور پيدا کړي چې د دغې ښځې د بخښنې سپارښتنه وکړي ، سلا پردې راغله چې اُسامه - بن زيدؓ حضرت پيغمبرؐ ته د پر کړان د ی هغه دا کارکولای شي.

لامل او اسامه بن زيدؓ يې د سپارښتنې له پاره راضي کړ .

اسامه بن زيدؓ لاړ ، رسول اللهؐ ته يې د ښځې د بخښنې خبره يا ده کړه .

رسول اللهؐ ورته وفرمايل :

" ته د خدايؒ په حدودو کښې سپارښتنه کوې ؟ "

پیغمبر اکرمؐ خلک راټول کړل ورته یې وویل:

له تاسې نه د مخکینیو قومونو د هلاکیدو یوه وجه دا وه چې د هغوی په وړاندې به کوم شتمن او مخور کوم ناوړه کار وکړ، هغه ته به یې څه نه وویل، خو که به د کوم خوار او بېوزلي له لاسه څه بد وشول نو جزا به یې ورکوله.

زما دې په لوی خدایؒ سوګند وي که دغه غلا د محمدؐ لور فاطمې هم کړې وای نو ما به یې لاس پرې کاوه.

ګرانو زده کوونکو! د پورته لوست څخه موخه مطلب واخیست؟ محترم ښوونکی دې د اسلامي عدالت په باره کښې تاسې نورې قصې زده کوونکو ته ووایي.

استقامت

په دنیا کښې پرهرچا ډول ډول حالات راځي اوهرراز سړي توديږي وينې ، دژوند په شپو ورځو کښې دچاکورته کله- غم راځي اوکله خوښي ، ښه سړی په سرو سترګو ژوند وي اوبل ته په لاس کښې د هوس ډکې پیالې ورکوي .

نوځوک چې استقامت اوقوي زړه نلري او د دنیاغم اوخوښي نشي زغملای ، هغه په لږ غم شپه او ورځ کړېږي اوله خپله ژوند لاس اخلي ، همدغه شان په لږه خوشحالۍ دومره - خوشحالیږي چې هرڅه هېرکړي اود بلې ورځې هېڅ غم ورسره نه وي .

مګر هغه کسان چې پرخدای ﷻ توکل لري او د دنیا راز راز واقعات يې لیدلی وي پوهیږي چې د دنیاغم اوخوښي لکه د

ارهت منکوتي ښو په بل پسې راځي او تېرېږي .

له دې شنه اسمانه کله شبنم اوري او کله ښلې ، نوهغه - هېڅکله دغم اوخوشحالۍ څېې له خپل عزمه نشي اړولی اونه د ده په استقامت کښې کوم بدلون راولي . لکه چې رحمان بابا - وايي :

لکه ونه مستقيم په خپل مکان يم
که خزان را باندې راشي که بهار

د دغسې استقامت خاوندان هېڅکله د دنيا په ترخواوخوږو نه غولېږي اوهېڅ راز پېښې (واقعات) پرې غلبه نشي کولای ، نه يې دغم خزان ملا ماتوي اونه يې د خوشحالۍ بهار له چټې باسي .

که څوک غواړي چې په دنيا کښې لويې لويې چارې ترسره کړای شي اوښومهم کار سرته ورسوي نو بايد استقامت ولري اوددنيا د سړو او ټولو مقابله وکړي .

څوك چې ثبات او استقامت نلري ، هغه هيڅكله په دنيا كښې لويه چاره نشي ترسره كولاى، اوكه هرڅومره سنه فكرونه ورسره پيداشي او بوكار ته ملا هم وتړي ، كله چې په مخ كښې ورته لږ پيچومې راشي ، له خپل كار څخه لاس اخلي اوپريږدي يې. همدارنكه ځينې نوركسان دي چې په خپل مقصد پسې روان وي مكركه په لار كښې ورته له كومې خوا دخوشحالۍ ږنا - وځليږي ، سمدلاسه له هغې لارې را كرځي اوبلې خواته ځي.

نو په هركار كښې انسان ته ثبات او استقامت ضروري دے اودكاميابۍ لويه وسيله هم استقامت دى.

«له غوره نشرونوڅخه»

کلکه اراده

په کلك عزم کښې هېڅ خوف اوخطر نشته
دې عزمو برکت د هنر نشته
باز بابنه په بال د عزم صیادي کا
هسې نه چې د پتوس بال و پر نشته
په طلب سره مقصد مونډلی کېږي
دا حدیث دی په کښې هېڅ لږوبر نشته
په غوټو ترلاسه کېږي خوشحال وایې
چا وېل چې په دریاب کښې کوهر نشته
د مجنون په رنګه کلك عزم په کار دی
نه چې بل لکه لیلی بنه بشر نشته

ناکامي د ارادې له مخـه تښتي
تاب د ستوري هېڅ په مخ کښې د لمر نشته
بې کوښښنه مشکل کله اسانېږي
چې کلي وي ، کلک ترلې هېڅ ورنشته
که هرڅو توپ او توپک تانکونه د پر وي
بې له عزمه په میدان کښې ظفر نشـته
زه په خپله اراده غښتلی بنـــه یم
څه حاجت که زغره خولمې په سر نشته

« اخلاص »

کرانو زده کوونکـو د پورته نظم په بارہ کښې ہوه لنډه مقاله ولیکئ .

که رښا ده پيروي د محمد ده
ګټه نشته په جهان بله رښا

محمد دې چاره وچاره ګر دی
محمد دی هر درد مند لره دوا

زه "رحمان" د محمد د در خاکروب يم
که مې خدای نه کا له دې دره جدا

(عَبدُالرَّحمَانْ بابا)

ګرانو زده کوونکو !

دا نعت شريف په يا د و نزده ګړئ .

مشوره

د اسلام مبارک دین مسلمانانو تلارښوونه کړې ده چې په فردي او اجتماعي چاروکښې د کارله پیله مخکښې ېوله بله سره سلا - مشوره کوئ .

په قرآن کریم کښې ېوه سوره د شورىٰ په نامه ده ، اللهﷻ په دې مبارکه سوره کښې هغه مؤمنان په ښویاد کړي دي چې په خپلو چارو کښې مشوره کوي .

حضرت رسول اکرمﷺ سره له دې چې د خدایﷻ غوره پیغمبردی بیاهم په قرآن عظیم الشان کښې ورته امرشوی دی چې په ټولوچارو کښې له خپل اُمّت سره مشوره کوه . حضرت رسول اکرمﷺ په ټولو اجتماعي ، فردي اوجنګي تدبیرونوکښې له خپلو یارانو او اصحابو سره سلا مشوره کوله .

مونږ مسلمانان د خپل پیغمبر[۳] پیروان یو، په کار دي چې د خپلو چارو د تر سره کولو لپاره د قرآن عظیم الشان د حکم سره سم په خپلو کښې مشوره او بیا پر کار پیل وکړو چې په دې صورت کښې به زمونږ د کار انجام ښه او ګټور وي .

محترم ښوونکی دې د مشورې په ارزښت او ګټې خپل شاګردان[۳] وپوهوي او هم دې د رسول الله[۳] د شورې[۱] یوه کیسه زده کوونکو ته بیان کړي .

حکایت

پوپاچا ؤ ، په ظلم اوبې انصافۍ ډېر زیات مشهور ؤ ، پوعالم ته یې وویل :

په عبادتونوکښې غوره عبادت کوم دی ؟

هغه ورته وویل : ستاترنیمې ورځې خوب ، حکه چې وبه یې ، نوخلکوته به دې ازار و نه رسي ، اودرنه په امان به وي.

رباعي

دچاچې خوب له ویښوالیه ښه وي
ببلریې مه کړه ، پریږده ، اوده وي
دساعت خوب یې چې هونبره سود لري
ته خود قیاس وکړه ، مرګ به یې څه وي

برېښنا (برق)

د پشکال په موسم کښې چې توري توري وريځې راخوري وي نوتاسې به په اسمان کښې کړه کړوز او پرک پروک لېدلی وي خوپه دې نه پوهېږئ چې دا ولې ؟

دا پرک پروک او کړز کړوز په اصل کښې د برېښنا وي. د هرخلک په دې نه پوهېدل چې برېښناځه شی دی اوځنګه پیدا کېږي، اخردا معلومه شوه چې خدای ﷻ په خپل قدرت وريځې په خپلو کښې وجنګوي نوله هغې نه برېښنا پیدا کېږي.

په برېښنا کښې رڼا او ګرمي وي، تر دې پرې مودې د انسان لاس له برېښنا په استفاده نه رسېده، خوعالمان په ګډه د دې خبرې په تحقیق کښې لګیا وو، او د هغې نتیجه دا ده چې نن ورځ مونږ برېښنا په کارخانو کښې تولیدوو.

د برېښنا د پيدا کولو ډېرې طريقې دي ، خو په اسانه لاره يې دا ده چې د سين نه هولوی نهر را ښکل کړې ، دغه نهر له هوا وچت غره نه ژورې ته راوغورځوي ، دلته يې د همدې اوبو په زور چلېدونکي ماشينونه لکولي وي چې په چورلېدو سره يې د خدای ﷻ په قدرت برېښنا پيدا کېږي ، دغه برېښنا بيا له دې ځايه په فلزي تارونو کښې نورو ښارونو ته ښول کېږي او کارونه پرې کېږي .

برېښنا زمونږ په ژوند کښې ډېر فرق راوستی دی په کورونو ، لارو کوڅو او بازارونو کښې د برېښنا ستنې لګېدلې دي . که باران وي که سېلۍ وي ، بس د هوې تکمې (سوچ) په خوځولو ټول ملک سپين پرک شي . پرته له برېښنا نورهم ډېر کارونه کېږي ، چای پرې پخېږي ، خونې پرې تودېږي ، په اوړي کښې پرې پکي کرځي ، د ژمي پرې اوبه

تودبري . لنده داچې د ژوند په هر کارونه پرې کېږي .

تاسو هره ورځ په بازارونو او کورونوکښې له را د ېونه خبرونه اوډول ډول خبرې اومضمونونه اورئ دا هم د برېښنا برکت دی . فکروکړئ که ناڅاپه برېښنا زمونږ له لاسه نه لاړه شي نوزمونږ دا ژوند به څومره بې خونده شي .

سوالونه اومشق

۱- د برېښنا نه مونږ ته څه څه فائدې دي ؟

۲- برېښنا ښه څيز دی ولې کله کله ترېنه بنده ته زيان هم رسي دا څنګه دی ؟

۳- د برېښنا په فائدو ېو ورکوتی مضمون وليکئ .

٤- دا ټکي په خپلو جملوکښې استعمال کړئ : ګرځ ګروز ، پرک پروک ، قهرجنه .

٥ - په دې سبق کښې دحال فعل (موجوده زمانه) لس فعلونه وليکئ .

علم او دولت

۱ـ علم به تاساتي او دولت به تاسې ساتئ .

۲ـ د عالم سړي دوستان او دولتمند د بنمنان ډېر وي .

۳ـ علم په خرڅ کولو زياتېږي خو دولت په لګولو کمېږي .

٤ـ عالم سخي وي خپل علم نوروته ښيي ، دولتمند بخيل ـ وي خپل دولت پټوي .

٥ـ علم د رنه څوك په زور نه شي اخيستى ، خو دولت د رنه غله او د بنمنان په زور اخيستلای شي .

٦ـ علم هېڅ وخت نه زړېږي او نه بېکاره کېږي ، خو د دنيا مال او دولت زړېږي .

۷ـ په علم سره انسان متواضع او بې کبره کېږي ، او په ـ دولت سره انسان کبرجن کېږي ، چې کبرجن د خدای د بنمن دی .

۸ - علم د انسان دماغ رو ښانه کوي، ښکې ته يې راوړي . دولت انسان دخواهشاتو اوهوس په لور بيايې .

نورائې چې علم زده کړو اود علم په زده کړې پسې ملا وتړو .

محترم ښوونکی دې زده کوونکوته د هرې جملې په باره کښې لازمه توضيحات ورکړي .

قناعت

خوك چې نه لري ېوبل ته اُمېدونه
د هغه په کورکښې خدای ایښې ګنجونه
له عالمه بې نیاز هغه کسان دي
چې يې کم کړل په دنیا خپل حاجتونه
د دنیا جاه وجلال ورته هیڅ ښکاري
چې دماغ کښې شي پیدا عالي فکرونه
ذاېقه اشتها فکرچې بدل شي
هغه ناخلي له دنیا نه ډېرخوند ونه
دمعنیٰ دخاوند نو په نظر کښې
د دنیا دعزت نشته ډېرقدرونه

څوك چې مست شي د مولا په مينه باندې
د هغه په زړه وي كله نور شوقونه

«الفت»

كرانو زده كوونكو !

داخري بيت مفهوم اومعنا په خپلو كتابچوكښې وليكئ.

نبوي ﷺ اخلاق

د هغه ستر پيغمبر د اخلاقو په باب به څوك څه وليكي او
ووايي چې پاك خداى يې پخپله داسې مخاطبوي :

وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ

دا يوځركند او ثابت حقيقت دى چې پاك خداى ټول نيك خويونه
او صفتونه (ربښتينولي ، تقوى ، امانت داري ، تواضع ، سخاوت
حلم ، شجاعت ، قناعت ، وفا ، صبر ، استقامت ، رحم ، حيا ،
زهد سوى ، عفوه) او داسې نور د برعالي اوصاف يې -
حضرت رسول اكرم ﷺ ته ورپه برخه كړي وو چې
دا لاندې ليكل شوي حقيقتونه د هغه د لوړو اوعالي اخلاقو -
ښكارندوى دي .

الف : حضرت رسول كريم ﷺ تر نبوت د مخه د الله

حکایت

یوه غله ګډا ته ووېل : نه شرمېږې چې د دنیا هرسړي
او نه سړي ته لاس نیسې ، چې څه درکړي .
ګډا ورته ووېل :

لاس وېل ته په خواست اوږدکړي ښه دے
نه چې د وه درمه پټ کړي لاس دې پرې کا
دا دسوال څېرې جامې ګدای ته ښې دي
نه جامې چې بیایې ستا په وینو سرې کا

د بدنیتی نتیجه

حضرت امام غزالي رحمة الله عليه د اسلام له لويو علماوو څخه دی. وايي :

يوسړی پاچا ته د برګران ؤ ، همېشه به يې خپل دربار ته غوښته او په ځينو مسايلو کښې به يې ورسره خبرې کولې .

يوه ورځ دغه سړي پاچا ته ووېل چې : له نېکو خلکو سره ښه کوه ، د بدانو لپاره خپله بدي بس ده .

يوبل سړي چې زړه يې له حسد څخه ډک ؤ د پاچا له دوست سره يې حسد پيدا کړ، چې د پاچا په وړاندې دده ولې دومره قدر او عزت دی ؟ کوښښ يې کاوه چې په يو پول له ده نه د اعزت واخلي او ځان ورنژدې کړي، پاچا ته يې ووېل : دا سړی چې تاته ښائي ، سره له دې چې ته يې دومره عزت

کوې د باندې چې له دربارې راوونې خلکوته وايي چې د پاچا له خولې نه بوي ځي، که ته زما خبره نه مني، سبا چې راغې ورته وګوره چې ستا په حضور کښې څه ډول وضعیت کوي.

کینه کښې سړي د پاچا هغه دوست ته میلمستیا وکړې او په ننګولي کښې يې ورته ډېره هوښه واچوله، د پاچا دوست چې ډوډۍ وخوړه، د پخوا په شان د پاچا دربار ته ولاړ، د دې له پاره چې پر پاچا يې دخولې بوي ورنه شي، خولې ته يې دستمال ونيو پاچا چې ورته وکتل، د هغه کینه کښې خبره ورته ربښتیا ښکاره شوه. د پاچا داعادت وُچې د انعام خطونه او فرمانونه به يې لیکل او بیا به يې د انعام مستحق ته لاس په لاس ورکول، له ډېره قهره يې خپل وزیر ته فرمان ولیکه په پاکټ کښې يې کېښود اودغه سړي ته يې ورکړچې پلانکي نائب الحکومه ته يې یوسه. د پاچا دوست د هغه پرعادت ګومان وکړچې څه انعام به راکوي.

پاکټ یې راواخیست او روان شو، په لاره کښې هغه حاسد
ورسره مخامخ شو، پوښتنه یې تري وکړه، پاچاخو درته څه ونه وېل؟
د پاچا دوست ورته له جبې پاکټ را واېست، کینه کښې چې
د پاچا لیک ولید فکر یې وکړ چې دځه انعام امر یې ورکړی دی
اوهلته به ورکول کیږي.

حاسد ورته ووېل: زه ډېرغریب اوبې وزلی یم، دغه د پاچا د
انعام فرمان ما ته راکړه. د پاچا د دوست ورباندې زړه وسو
فرمان یې حاسد ته ورکړ، حاسد ورنه ډېره مننه وکړه، فرمان
یې واخیست اوځنې روان شو.

حاسد له واړه فرمان نائب الحکومه ته ورساوه، نائب الحکومه
چې پاکټ پرانیست او فرمان یې ولوست پکښې لیکل شوي
ووچې «د دې فرمان درویونکی له واړه ووژنئ».

دوخت نائب الحکومه جلادان راوغوښتل او حسد کوونکي ته

يې ووېل چې پرتا باندې د مرګ حکم شوی دی ، حاسد د بر شور اونږوب جوړکړ او ووېل به يې چې دا پاکټ ماله بل چا نه اخيستې دی ، زه نه يم ، مګر نائب الحکومه د قطعي فرمان په سبب دا سړی اعدام کړ .

څوورځې وروسته د پاچا دوست بيا دربار ته ورغی ، پاچا ورنه پوښتنه وکړه چې هغه فرمان دې څه کړ ؟

دوست يې ونرته ووېل : زما دوستي له تا سره د مال او - دولت لپاره نه ده ، ما هغه د انعام فرمان پلانکي سړي ته ورکړ چې انعام هغه ته ورکړي .

پاچا ورته ووېل : تا زما د خولې د بد بويې په هکله څه ويلي وو ؟

دوست ورته ووېل : خدائ دې نه کړي چې ستاسې د خولې په باب ماځه ويلی وي .

پاچا ورته ووېل : هغه ورځ دې خولې ته ولې دستمال نيولی ؤ ؟

د پاچا صادق دوست ورته وويل : هغه ورځ خوهغه سړي په ننګولي کښې د ډېره زياته هوډه اچولې وه ، خولې مې بوي کاوه نوما وېل چې د خولې بوي مې پرتا درنه شي ، نو خولې ته مې دستمال نيولی ؤ .

پاچاچې د خپل دوست خبرې واوريدې ، د هغه حاسد خبرې ورته دروغ ښکاره شوې ، خپل دوست ته يې وويل : ستاسې د غه نصيحت چې ، « له نېکو خلکو سره ښه کوه اود بدانو له پاره خپله بدي لبس ده » حقيقي ښه غوره کړه چې حاسد د خپل حسد په سبب هلاك شواوتا د خپل ښه نيّت اوصداقت له امله له مرګه نجات وموند .

— ګرانو زده کوونکو له پورته لوست نه موخه نتيجه واخيسته .

— محترم ښوونکی صاحب دې پو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راوغواړي ترڅو خپلو ټولګي والو ته د غه کيسه په يادووايي .

— ښوونکی صاحب دې د ښه نيت اوبد نيت په هکله زده کوونکو ته په روانه ژبه معلومات ورکړي .

شعر

کړد ګلوکړه چې سیمه دې ګلزارشي
اغزي مه کړه په پښوکښې به دې خارشي

ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شـه
چې همدا غشي به ستا په لورګوزارشي

کوهی مه کنه د بل سړي په لار کښې
چیرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي

ته چې هرچا ته په خواروستر ګو ګورې
لاړومبی به ستاصورت ترخاوروخوارشي

آدم زاد په معنیٰ واړه پوصورت دی
هرچې بل انلږوي هغه ازارشي

د مات لوښي اوازکله ثابت خپژي

د هرچا عمل څرګند په خپل کفتار شي

هغه زړه به له طوفانه په امان وي

چې کښتۍ غوندې د خلکو باربردار شي

که بل بد کاندي ته ښه ورسره وکړه

هر ښه نخل چې میوه لري سنګسار شي

خدای دې بد له لاسه نه کا اوکه وي هم

د "رحمان" دې له کل بدو استغفار شي

ښاغلی ښوونکی دې د هربیت معنی او نتیجه زده - کوونکو ته ووایي .

د شهید خاطره

منی ؤ د خزان رژوونکو با د ونو د ونواو بوټو پاڼې پوه
پوه رژوله ،الوتونکو مرغانو ددې سخت حالت له وېرې خپل
ځایونه پریښي وو ، نه د ځلونو شنې پاڼې چېرته ښکاره کېدې
اونه د بورانځانو د مینې نغاړکانې لېدل کېدې ، چوپه چوپتیاوه
زه د ژوند په دې سختو شېبو ورځوکښې د معمول په توګه سمار
وختې له خوبه پاڅېدم ،خدای مې یاد کړ، بهرد ېوې لوېې ویالې
غاړې ته کښېناستم ، اودس مې وکړ ، د لمونځ دادا کولو
په نیت جومات ته لاړم ، د سهار لمونځ مې په جمع وکړ.
د جومات امام د اوږدې دعا په کولوسره د مجاهدینو د فتحې
اود کمونستانو د ناکامۍ غوښتنه وکړه ، بیایې د جهاد په
هکله د سردارکونېن د څومبارکوا حادیثو ترجمه وکړه .

دُعا وشوه ، کورته راروهي شوم ،کورم چې د جومات ترڅنګه په
هوه لوبه ا دېره کښې د هو نوي قبر ترخوا هوسپين ږيرى بابا د -
قرآن عظيم الشان تلاوت کوي اوهوه هوه اوښکه يې د مرغلرې په
څېر په سپينه ږيره راالوېږي ، ماهم خپله لاره پرېښوده ، ادېرې
ته ورغلم د سپين ږيرې ترخوا ودرېدم ، د بابا اوښکې د پسرلي
د باران په شان څڅېدې ، هوسور اوسېلى يې له خولې ووت اوماته
يې وکتل ، ما ورته ژر سلام واچوه ، بابا په ډکه غاړه اوژړغوني
اواز زما سلام واخېست ، لږه شېبه د ډاډه سړه چُپ وو ، ما ورته
ووېل : بابا! ولې ژاړې ؟ دا قبر دچا دى ؟
بابا تر لږې دمې وروسته راته په ډ ډ اواز ووېل : د زما د -
خداى ج په مينه قربان شوى شهيد زوى قبر دى .
ما له بابا نه د شهيد زوى د کېسې اوريدو ته ځان سازاوه
چې بابا رابانديې پوه شوه او پخپله يې راته شروع وکړه .

دعبادت لپاره دحرا غار ته اوهلته يې د خدای عبادت
اودکائناتو دخلقت په باب ژور فکر کاوه .

کله چې الله د لومړي ځل لپاره دحرا په غارکښې وربانديې
وحې نازله کړه نو دهيبت او ډار په حال کښې يې کور ته تشريف
وړو ، بي بي خديجې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته يې وويل : په ځان وډاريدم .
حضرت بي بي خديجې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ورته وويل : په ځان مه ډاريږه ،
سوګند پرخدای چې تا به هيڅکله پاک خدای يوازې پرې نږدي
ځکه چې ته دخپلوانو سره ښې اړيکې ساتې ، په لارکښې پاتې ته
دلارې سپرلې برابروې ، د مظلومانو سره ښه کوې ، او د -
ميلمنو پالنه کوې .

ب : د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پيغمبرۍ څخه پخوا کله
چې قريش د کعبې دجوړولو په وخت کښې د حجرالاسود په-
پورته کولو سره وران شول اوداسې پريکړه يې سره وکړه :

ستړکي يې د پټکي په پيڅکه وچې کړې اوويې وېل :

بچيه ! خداىٔ را باندې د ډېرو مهربانيو په لړکښې ښوه دا هم لوروله ده چې دا سې زوی يې راکړی وُچې نن يې په توره اومېړانه ويارهٔ اوسبا (د قيامت په ورځ) يې د شفاعت ته لرهٔ زما دغه شهيد زوی حبيب الله نومېږي چې خپل حُبّ يې د حقيقت په ميدان کښې ر ښتينولی ته ورساوه .

کمونستان چې د واک پرڅڅدی کښېناستل نو حبيب الله به د خپلې عقيدې په ضرورت د کمونستانو الحادي څېرې خلکو ته وړ وپېژندې او ټولو مسلمانانو وروښوته بېې د جهاد او اتفاق په لورې دعوت ورکاوه اوويل به يې :

داچې ملحدو روسانو زمونږ پر اسلامي هېواد او پاک عقيدې تجاوز او تېری کړی دی ، دا د هرمسلمان اسلامي فريضه ده چې د دې ملحدينو په مقابل کښې هر ډول قربانۍ ته چمتو شي.

چې د اسلام پاکه خاوره د دوی (روسانو او د هغوی د مزدورانو) له ناولو قدمونو څخه پاکه اود نړۍ مسلمانان د دوی له ظلمونو څخه نجات وموم .

حبیب الله به تل د خپلو مجاهدو وروڼو سره اوږه په اوږه په عملي جهاد کښې برخه لرله ، ما اومور يې هروخت ورته وېل :

زوی ! حالات خراب او د نیا ګډه وډه ده ، زه سپین - بیری یم اومور دې بوډی ده ، واده به درته وکړو چې زمونږ د زړه دغه ارمان په ژوند کښې ترسره شي ، خوده به وېلې :

پلار جانه ! زما د زړه ارمان به هغه وخت ترسره شي چې د اسلام بېرغ په ټول افغانستان کښې جګ اود قرآن پاک او اسلام سپېڅلی قانون حاکم شي . خومونږ به همېشه دا ټینګار کاوه چې واده وکړې دی مو د خپلو ارمانونو پوره کېدو ته رضاء کړه ، د واده ترتیبات مو وینول چې د واده په مراسمو کښې يې د سنګر مجاهدو

وروښو په دېره خوښۍ برخه واخېسته ، د خپل زوی د واده ـ
ارمان موټر سره شو، خوزما مجاهد زوی ته چې کوم خوند
د جهاد د اسلامي سنګر په لوړو غروڼو او د ښتوکښې حاصل ؤ،
هغه لذت يې په واده کښې نه لېدۀ ، د واده په دريمه ورځ يې
اجازه وغوښته اوخپلو مجاهدينوورونو ته يې ځان ورساوه ،
په ورځ يې ټول مجاهدين خوشحاله شول اوپه همغه شپه يې
له مجاهدينو سره يوځای د کمونستانو پر يوه پوسته حمله وکړه.
چې په نتيجه کښې يې ډېرکمونستان ووژل، تر ډېرې جګړې وروسته
د حبيب الله د شهادت لوړ ارمان ترسره شو. «اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ»

د حبيب الله د واده جامې په سرو وينولا رنګينې شوې وې چې
مجاهدينو زمونږ کورته راوړه ، موريې ښه لويه چيغه وکړه،
بې هوښه پرېوته ، د کټ سرته يې زه کښېناستم ، د نازولي
شهيد زوی ناوې مې لکه لېونۍ راغله ، د نکريزو په سرومنګولوبې

دخپل شهید اوغېرتي مېړه د سرو څپلیو سرونه وینول اوداغزیي
له خولې ووت :

دمجاهدو زلمو واردی ،

پرېښکاره اسلام به توره یالي میړونه مرینه

نوبچیه ! زما هغه حالت را یاد ېږي چې له یوې خوا زما د -
شهید زوی سینه د شهادت په سرو وینو سره اوله بلې خوایې
د ښکلې او پاك لمنې ناوې لاسونه د واده په نکریزولاسره.
وو، ځکه مې اوښکي څاڅي ، صبراواجریې له الله څخه غواړم.

ګرانو زده کوونکو ! که د اسلام په شهیدانوکښې موداسې
نوري قصې زده وې د تولګي مخې ته ېو ېو راشئ اوخپلو ټولګیوالو
ته یې ووایاست .

د قرآن عظیم الشان ختم تهلیله

کرانه او محترمه وروره «الفت الله جانه !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

دجمعې د سهار په اتو بجو زمونږ په جامع جومات کښې د قرآن عظیم الشان په ختم کښې ستاسې د کډون هیله کوو .

هیله ده په خپل راتلو به موسرلوړی کړئ .

والسلام

د (.....) له خوا

پته : .....

محترم ښوونکی دې د اسې نور لیکونه زده کوونکوته کورنۍ وظیفه ورکړي .

مناجات

الهي ټولو بديو نه امان را
ماته مينه محبّت د پاك قرآن را

چې خطا په وسوسو د رقيب نشم
لورهمّت په مقابل کښې د شيطان را

د اقرار سره عمل مؤمن ته ښايي
ماته کلکه عقيده اوتينګ ايمان را

لياقت د بندګۍ راکښې پيدا کړې
د طاعت او عبادت له پاره توان را

چې رضا راته حاصله پکښې ستاشي
پټ په زړه کښې هسې شان عشق سوزان را

بې غمي څه ښادي نه ده لويه خدايه!

زه انسان يم غمخوري د هر انسان را

د قارون دنيا پيرزوړا باندې نه کړي

ماته برخه په سخا لکه عثمان (رض) را

چې هر څوک مې په صفت د ښو اقرار کړي

داسې فکر او اخلاق په ټول جهان را

چې پرده مې د حيا له هرڅا وشي

راته مړک د شهادت په هسې شان را

«محمد ايازز»

ژبې بنوونه

ګرانو شاګردانو! تاسې په خلورم اوپنځم ټولګي کښې اسم او فعل له تعريفونو اومثالونوسره ولوستل، دا دی په شپږم ټولګي کښې د «حرف» یاتوري په باب پوهه لولو:

حرف یا «توری»

حرف هغه کلمه ده چې د نورو کلمو په ترون او پیوستون کښې تري کار اخیستل کیږي، نه له کومې کلمې نه راوتی وي، نه تري بله کلمه جوړه شوې وي او نه په هوائې ځان سره معنا لري. لکه: له، ته، نه، څخه، ځنې، لره، کښې، په، پر، تر، بې، نا، کره، باندې، لاندې، پورې، په شان، غوندې، هسې، پسې، څېر او ....

دادې دلته يې له بوه بوه مثاله سره راوړو :

له : زما وروڼو له جهاد نه راغی .

ته : ته جهاد ته کله ځې ؟

نه : پوهه مې کتاب نه نړه کړه .

څخه : زلمی له سنګر څخه راغی .

ځې : کتاب مې زلمي ځني واخیست .

لره : تا لره داسې نه ښایي .

کښې : زمونږ د هیواد په کوټ کوټ کښې جهاد روان دی.

په : په چاکو مې لاس پرې کړ .

پر : پر میز څه پرانه دي ؟

تر : تر ښاره څومره لاره ده ؟

بې : بې کاره سړی د خدای نه وي خوښ .

نا : له نا کاره چاروځان ساته .

کره : زلمي دوی کره نن هېڅوك نه وو .

باندې: قلم مې پر کتاب باندی کیښود .

لاندې: کتاب ترمیز لاندې دی .

پورې: د کور پورې راسره لاړ شه .

په‌شان: ته کټ مټ زما د ورور په‌شان یې .

غوندې: ویې کټه دمزدور غوندې ، ویې خوره دخان غوندې.

هسې : د لیونیو هسې مه کړئه .

پسې : په هېڅا پسې څه مه وایه .

څېر : د زمري په څېر همت وکړه .

د توریو ډولونه

له دغو توریو (حروفو) څنې هریوځانله ځانله داستعمال ځایونه لري اوپه څو ډولو وېشل شوي دي :

هرڅوک چې سهار د ټولوڅخه لومړی د حرم په دروازه را-
ننوزي د هغه فېصله به منل کېږي.

همغه وُچې رسول کریمؐ د ټولوڅخه مخکښې د حرم په دروازه ورننوت ، ټول زیات خوشحاله شول او ټاټوبې کړې چې آمین راغی ، هغوی ورته د زیاتې امانتدارۍ له امله امین وایه .

رسول کریمؐ حجرالاسود په څادرکښې کېښود او دڅلورو-
مختلفو قبیلو مشرانو ته یې د څادر ډوه ډوه پیڅکه ورکړه چې دغه مبارکه تیکه یې په خپل ځای کښې کېښوده او اختلاف ورک شو.

ج : د احد په غزا کښې چې د رسول اکرمؐ غاښ شهید شو نو ځینو خلکو ورته وویل چې : د کفارو په حق کښې بد-عا وکړه چې هلاک شي مګرسره له دې رسول مقبولؐ هغوی ترښېرا ونکړه او دا دعا یې کوله :

ای خدایه ! زما قوم ته هدایت وکړې دوی نه پوهېږي .

الف :- د ربط توري : چې د دووکلمو او دووجملوتر-
مینځ د نژدېوالی او ترون کار ورکوي .

لکه : له ، ته ، لره ، په ، کې ، پر ، تر ، بې ، ...

ب :- دعطف توري : چې دا هم کله د ربط او پیوستون
کار ورکوي اوکله کله جملې اوعبارتونه سره ښلوي .

لکه : او ، یا ، بیا ، هم ، . . .

ج :- د ندا توري : چې دجملې په سرکښې راځي او د
اوریدونکي پام ځانته راړوي .

لکه : ای ، او ، اوهو ، اوف .

د :- ځینې نور عطف او ربط ته ورته توري .

لکه : بل ، ترڅو ، سربېره ، کدځه هم ، لکه چې ، ...

هـ : د قسم توري : بزو ، لکه : خدایږو .

و : د تشبیه توري : لکه ، څنګه غرهسې ځناور .

ز :- د تاکید توري : لکه ببخي ، داسې ببخي لپونی دی.

ح :- د نفي توري : چې د منفي جملو یا کلمو لپاره - استعمالېږي .

لکه : نه کوږ ، نه راځې ، مه کوه ، ناروغ یم ، ناکاره دی .

پوښتنې

۱- حرف «توری» څه پېژنئ ؟

۲- توري څو ډوله دي ؟

۳- د ربط توري څه ته وایي ؟

٤ - د عطف توریو یو مثال ولیکئ ؟

۵ - نداء توري کوم دي ؟

د شپږم ټولګي د پښتو لوست لغتونه او معنايي :

ګڼه	لغات	معنا
۱	ابتدا	پېل
۲	انتها	پای
۳	اګاه	خبرپوه
٤	الفت	مینه
٥	اوده	بېده
٦	بال	وزر
۷	بهار	پسرلی
۸	بېدار	ویښ
۹	تواضع	کمینې
۱۰	تمویلول	دمال څښتن کول
۱۱	پارسا	پرهېزګار
۱۲	پېچومی	مخ په جګه ځای مطلب تری ستونزی او مشکلات .
۱۳	چټې	اندازې ، حدود
۱٤	حمد	دخدای تعالی - صفت اوستاینه .
۱٥	حُسن	ښېګڼه او ښکلا
۱٦	خاکروب	جاروکښ
۱۷	خوف	وېره
۱۸	خول	دجنګ خولی چې له اوسپنې وي .
۱۹	خونه	کور ، کوټه

ګڼه	لغات	معنا
۲۰	خواست	سوال ، غوښتنه .
۲۱	خرقه	دملنګانو کند ، له توټه ټکر نه جوړ شوی کمیس .
۲۲	درویش	ملنګ .
۲۳	درم	پیسې .
۲٤	رباعي	څلوریزه
۲٥	رسېدلی فقیر	هغه ملنګ چې په رښتیا - پرخدائ مین وي .
۲٦	زغره	دجنګ جامه چې له اوسپنې - وي .
۲۷	سمسور	آباد ، شین ، لړوبوډک
۲۸	سوکند	قسم
۲۹	سود	ګټه
۳۰	شجاعت	زړورتیا ، مېړانه
۳۱	ښکارندوی	څرګندونکی
۳۲	صمد	بې ارتیا
۳۳	صیادي	ښکاریتوب
۳٤	ظفر	بری
۳٥	عاصي	ګنهګار
۳٦	عصا	امسا
۳۷	عزم	پوښ نیت
۳۸	قناعت	صبر
۳۹	قیاس	اټکل
٤۰	قادر	توانمن

B
REC
1125 W13

ځ	لغات	معنا
٤١	کل	ټول
٤٢	کتابتون	کتا بخانه
٤٣	ګنجونه	خزاني
٤٤	ګدا	سوالګر
٤٥	میرثي	دښمني
٤٦	مانه	ګیله
٤٧	مسند	سند لرونکی
٤٨	معراج	داوچتېدلو وسیله ، زینه
٤٩	مکارم	د مکرم جمع او مکرم عزیز اودوست ته وایي .
٥٠	مکان	ځای
٥١	نعت	دحضرت پیغمبر"ص" صفت اوستاینه
٥٢	نفس	سا
٥٣	نصرت	امداد اومرسته
٥٤	نخل	دخرما ونه
٥٥	وصي	هغه څوک چې سپارښتنه ورته شوی وي .
٥٦	ورشو	دخړ ځای .

ځ	لغات	معنا
٥٧	وحشت	ځناورتوب
٥٨	وباله	وغوښته
٥٩	هونبره	هومره

د : یوه ورځ رسول اکرمؐ د یوې وینې لاندې ښېده شو او توره یې په ونه کښې راځوړنده کړه ، یو کافر راغی ، توره یې د وینې څخه را واخیسته ، د رسول اکرمؐ سر ته ودرېد او غږ یې پرې وکړ چې اوس به دې را څخه څوک خلاص کړي ؟

د الله د نامه د یادولو په سبب او د رسول اللهؐ د نهرور- توب له امله د کافر دلاسونو څخه توره ولوېده ، رسول اکرم را واخیسته او غږ یې پرې وکړ اوس به تا را څخه څوک خلاصوي ؟ کافر وارخطا شو ، گومان یې وکړ چې اوس به مې اروم- رو وژني . رسول اکرمؐ ته د قهر زغمل ښه ښکاره شو او هېڅ یې ورته ونه ویل .

کافر چې د رسول اکرمؐ زغم او اخلاق ولیدل تاثیر یې پرې وکړ او د اسلام په مبارک دین مشرف شو .

خدای یې مه بوله بېشکه چې بنده دی نور یې کل واړه صفاتونه ښیي

AFGHANISTAN EDUCATION COMMITTEE
دافغانستان د تعلیم او تربیې اداره

اِقرأ.....

پښتو لوست

شپږم ټولګي لپاره

کال: ۱۳۶۶هـ ش

پښتو لومړۍ ځل

د شپږم ټولګي لپاره

کال: ۱۳۶۶هـ ش

مؤلفين :

محمد آصف «صميم» ، محمد ايا ز «ملنگيار» او

سرمعلم محمد كلاب

مشورتي غړي :

باطن شاه «صافي» او روژه كل «وحدتي»

فهرست

ګڼه	عنوان	مخ
۱ -	حمد	۱
۲-	نعت	٤
۳-	نبوي (ص) اخلاق	٦
٤-	پوښتنې	۱۰
٥ -	پخې خبرې	۱۱
٦-	عمربن عبدالعزیزته دحسن بصري نصیحت .	۱٤
۷-	مشراو کشر	۱٦
۸ -	پوښتنې	۱۷
۹-	دجهاد په باره کې مبارک احادیث «ترجمه» .	۱۹
۱۰ -	نصیحت	۲۰
۱۱-	دشهادت مینه	۲۲
۱۲-	پوښتنې	۲٤
۱۳-	دوخت ارزښت	۲٥
۱٤ -	دجهاد ترانه	۲۸
۱٥ -	البیروني	۳۰
۱٦ -	سوالونه اومشق	۳۳
۱۷ -	مجاهدته خطاب	۳٤
۱۸ -	دزوی پالنه	۳۸
۱۹ -	بوعلی سینا	۳۹
۲۰ -	سوالونه اومشق	٤۲
۲۱ -	اسلام اوکار	٤۳
۲۲ -	دحضرت امام غزالیؒ ویناوې	٤٦
۲۳ -	ښه خویونه	٤۸
۲٤ -	حکایت	٥۱
۲٥ -	رباعي	٥۲
۲٦ -	اسلامي عدالت	٥۳

ګڼه	عنوان	مخ
۲۷-	استقامت	۵۵
۲۸-	کلکه اراده	۵۸
۲۹-	مشوره	۶۰
۳۰-	حکایت	۶۲
۳۱-	رباعي	۶۲
۳۲-	برېښنا	۶۳
۳۳-	سوالونه اومشق	۶۵
۳۴-	علم او دولت	۶۶
۳۵-	قناعت	۶۸
۳۶-	حکایت	۷۰
۳۷-	دبد نیتی نتیجه	۷۱
۳۸-	شعر	۷۶
۳۹-	دشهید خاطره	۷۸
۴۰-	د قرآن عظیم الشان ختم- ته ښلنه .	۸۴
۴۱-	مناجات	۸۵

ګڼه	عنوان	مخ
۴۲ -	ژب ښوونه	۸۷
۴۳ -	حرف یا «توری»	۸۷
۴۴ -	دتوریو ولونه	۸۹
۴۵ -	پوښتنې	۹۱
۴۶ -	دلغاتو برخه	۹۲، ۹۳